


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مــــات

# انځــــور

(لنډې ادبي ټوټې)

ليکوال: عبدالباسط جهاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

لا په شپږم ټولګي کې نه وم چې د کتابونو د لوست د مینې ځپو لاندې کړم. همدا وو چې د کتابونو په سمندر کې ډوب شوم، ډېر وخت به مې له کتابونو سره تېراوه او معمولا به مې ناولونه ډېر لوستل. تر دې چې په پښتو ناول لوستنې روږدی شوم، په همدې توګه به مې د کتاب لوستنې ټول خمار په ناول لوستنې مات کړ او همېشه به د ناولونو په نشه کې مست وم.

همدغه مستي د دې لامل شوه چې پخپله هم د یو ناول څښتن شم، له ډېرو هڅو وروسته مې (کافر اسمان ناول) چاپ ته اماده کړ، خو د یو شمېر شخصي او ټولنیزو مشکلاتو له کبله مې چاپ نه شوای کړای.

اصلي او د خوښې وړ مسلک مې حقوق او سیاسي علوم دي چې په یوې واضحې تګلارې مې ځان ور ورساوه، دې برخې ته د خدمت تعهد لرم؛ خو لکه څنګه چې پښتو ادب پر موږ حق لري او د هغې مینې لمخې چې پښتو ادب سره مې درلوده، زه یې اړ کړی یم چې یو شمېر ادبي لیکنې ولرم.

دغه اثر (مات انځور) هم د همدغې مینې محصول ده، په دې اثر کې مې نهایت هڅه کړې چې د زړه خبر ېمې د ادبي ښکلا په قلم د ژوند په پاڼو کې ترسیمې کړم. خو سره له دې دا چې زه یو ادیب نه یم او نه هم په لیکوالۍ کې پوره مهارت لرم، نو ښایي په حاضر اثر کې ډېرې ستونزې شتون ولري چې ستاسو وړاندیزونو، نیوکو او نظرونو ته مې اړمند کوي.

په پای کې له ملګري محب الرحمن ملیار او ملګري سلیمان مشال څخه مننه کوم چې د کتاب په ادبي کره کتنه او اصلاح کې یې راسره مرسته وکړه...

**په ټوله پښتنه مینه**

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مات انځور /3**

ادبي ټوټې؛ د لوستونکو نظر کې شیش محل جوړوي.
د یو کتاب تقریظ یا ورته سرلیکنه هم ویلی شو، کله یې چې په کتاب لیکې، نو تاته یې دا واک درکړی وي چې د کتاب ښه او بد په پښتو لیک ) کرښو ( کې ورته انګازن کړې، هم به د لیکوال تنده خړوبوې پرې او هم د لوستونکي، نو زه په دې برخه کې د لیکوال له هغه لوی نیت یا زړه څخه مننه کوم چې په مونږ یې د دومره د اعتبار پړي ټینګ کړل او زه به ددې وخت یا دې عصر ته په کتو سره، د ادبي لیکنو کتاب پر چاپ سمبالښت باندې لیکوال ته افریني ورکوم ځکه چې، دې عصر ته په کتو انسان په تېره بیا لیکوال په هغه ټینګار او زحمت کوي چې خلک یې دود ولري یانې په مجموع کې یې لوستونکي زیات وي، خو ادبي ټوټې بیا ځوک د وخت حالاتو، مینې، غم او ... نورو حالاتو ته لیکي، خو په دې وخت کې یې که څوک لیکي، هغوی بیا اکثره د وخت د حالاتو سره سمې شاعرۍ او لیکوالۍ کوي.
نو ادبي ټوټې چي د شلمي پېړۍ په وروستیو کې پښتو ادب ته د بهرنیو ژبو د ژباړو پر بنسټ را ګډې شوې،زیات مینه وال یې په کمه موده کې ومونډل او ډېر ژر د لویو شاعرانو او لیکوالانو پام ور واوښت.
د یو ادبي ژانر لوی ارزښت او اهمیت هم په دې کې دی چې د لویو لیکوالو پام ځانته جلب کړي، هم لوستونکي ځان ته جلب کیږي.
د ځینو لیکوالانو، شاعرانو او ادیبانو ادبي ټوټې د ټولنې لپاره
اصلاحي،انتقادي،ریالیستیک،دیني،اخلاقي او ټولنیز پیغامونه هم له ځانه سره لري، څنګه چې پورته یاد شوو نو ځینې یې بیا د مینې لپاره هم لیکي.
ادبي ټوټو یو ارزښت د ساده او هنري نثر ترمنځ د توپیر کرښه هم ده.
ادبي ټوټې چې د لوی تخیل،انځورګرۍ،پیغام په ټوله کې د شعریت په ژبه لیکل کیږي، پر لوستونکي او اوربدونکي خپل اثر پرې باسي، چې له نورو نثري ژانرونو یې دغه ځانګړتیا د ادبي ټوټو ارزښت ثابتوي.

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي ټوټې یا ورته ځیني لنډې لیکنې هم وایي، په اوسني عصر کې یې اکثره خلک بیا د ټولنیزو رسنیو لپاره هم خورا زیات خوښوي، لکه ځیني یې په فېسبوک، ټوېټر، انسټاګرام او...کې پر خپل وال خپروي، نو اکثره خلک یې بیا زیات له دې رسنیو څخه د مینې یا هم نورو ته د ګوتې نیولو لپاره افلوډ کوي.
د ادبي ټوټو یو بل اهمیت دادی چې د ساده نثر غوندې نده چې تش معلومات وړاندې کوي، بلکې د شاعرانه لفظونو،کنایو،استعارو،انځورونو او ښکلې منظر کشۍ په مټ د لوستونکي او اورېدونکي په خیال کې یو نوی شیش محل جوړوي او لوستونکي ته د مخته تګ تلوسه ورکوي.
ادبي ټوټې د شعر په ډول د رښتیا او کذب په تله نه تلل کېږي،چې دغه ځانګړتیا هم لیکوال ته اجازه ورکوي چې د خپل خیال او فکر پر مټ هر ډول لوی ابهامي هنر ایجاد کړي.
د ادبي ټوټې د فورمي موضوعاتو ازادي هم لیکوال ته دا چانس برابروي چې د خپل ذوق او خوښې مطابق په بېلا بېلو موضوعاتو کې خپل هنر وپنځوي او ټولني ته د خپل زړه خبري په شاعرانه لفظونو د نثر په ډول وړاندي کړي.
په وروستیوکي باید ووایم چې د ادبي ټوټې یو لوی اهمیت دا دی چې د پښتو ادبي نثري ژانرونو برخه یې بډایه او لا رنګینه کړې، نو دا برخه باندې موږ اوس هم بسنه نه کوو / کیږي، ډېر کم لیکوالان دي چې دا ټوټې د یو چا مخته پر سپینه پاڼه انګازن کوي او د ړنا څرېکو ته یې باسي، په دې برخه کې زه هغه چاته شاباسۍ او افرینۍ ورکوم، چې خپل قیمتي وخت یې د پښتو او پښتویه راویښېدلو ته ځانګړی کړی دی، نه یوازې دا برخه د پښتو بلکې د پښتو ډېرې برخې نورې هم دي، څنګه یې چې توري مالوم دي همداسې دې هر لیکوال، شاعر او ادیب پر یوه توري یو ټوک کتاب لیکنې وکړي ترڅو مو هم پښتو ته خدمت شي او هم مو خپلې مورنۍ ژبې ته او خپل ګران هېواد ته.
زه په ورستیو کې د جهاني صیب ګوتو ته دوعا کوم او وایم چې دا ګوتې دې تل هڅکې او روغې واوسي چې زموږ د پښتو د غني کولو لپاره یې داسې څه برابر کړي دي چې هر فرد

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د ذوق څخه موږ نه ده د هر چا په خوله او ژبه باندې دا کربښې لوستل کيږي، ژوند يې لا اوږد شه چې دداسې څه په ليکلو يې خپل قيمتي او مهم وخت لږولی چې د پښتو د بډاينې لپاره وړ او منونکې دي.

زه د هر ليکوال هڅې د ستايلو بولم او ستايم يې چې د پښتو ژبې د غنې کولو په پار اخته وي او د خپلو گوتو څخه زور او خپل ځان د ضعف طرف ته باسي ترڅو مو ژبه له نړېوالو سره سيال شي، بيا هم ترې په لسگونو ځله مننه او قلم دې يې تل تاند او روان واوسي.

**د يو ودان او سرلوړي افغانستان په هيله**

**په پښتنه مينه او درنښت**

**ليکوال او ژورنالېست**

**رسول گل اشنا**

**سحر ټولنيز بنسټ مشر**

**پکتيا، گرديز، افغانستان**

**۱۳۹۸ /سلواغې / ۱۸ مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مات انځور/6**

کله کله خیال را پورته سي د انسان دننه په جیغو سر شي او د ټول وجود په داخل کې یوه
نا آرامي وزیږوي انسان دیته مجبوره کړي چې قلم واخلي او خپل خیال پر پارچه وکاږي
خو دا خیالات دمره له احساساتو او مقدساتو ډک وي چې انسان یې لوستل هم په ډیر
خوند او تکلف سره کوي ځکه چې د زړه خبرې وي او دا خبرې پر دې تیرې سوي وي
زیاته برخه یې مونږ په ادبي ټوټو کې لیدلی شو چې زمونږ د روح او روان تنده پرې
خړوبیږي مونږ زوروي او د ډیرو ترخو خبرو بیان پکې په نرمه او پسته ژبه شوی وي.
په پښتو ژبه کې د نثر، برخه خواره او په کمه اندازه منډه ورته وهل شوې، قلم کښته
شوی دی که څه هم شعر یې تر ډیره عالي ښه لري
نو دا چې دا په پښتو ژبه کې د نثر کړی لا پر پراخیدو دي د ویاړ او افتخار خبره ده،
ما د جهاني صیب کتاب ولوست دا ډیر په خوند او په نازکه ژبه غږیدلی دی،
ځینو ځایونو کې ډیرې پستې او نرمې جملې راټولي کړي او یو خوندور غږ یې ورڅخه جوړ
کړی د مئین غږ د مظلم او بې چاره غږ
کله کله پر ژوند ژور ورغلی سندرې یې ور جوړې کړي او کله خو یې له درده دمره خوږه
نغمه پیالې چې سړی حیران کړي ....
ډیر خوندونه یې رانغښتي نور نه غواړم ستړي مو کړم او ډیر وغږیږم
اوس تاسې د دې مهربانه غږ لمنې ته راکاږم او غواړم چې د زړه په سترګو یې واورئ
باوري یم یو څوک به مو سترګو ته ودروي
له ځینو شیبو به خوند واخلئ او ځینو ته به پښه نیولي شئ
زه د جهاني صیب دا هڅه ستایم او هیله لرم چې په دې برخه کې دا هڅه وروستۍ ونه
اوسي او په راتلونکي کې لا نورې پنځونې وکړي.
جهاني صیب!
سر دې سوړ او پښې دې تودې اوسه
**په ټوله پښتنه مینه**
**سلېمان مشال**
**کونړ اسعداباد ښار**
**خپله مېنه**

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

هغه به څنګه ځان‌ته د انسانیت میعار ورکوي؛
د چا چې زړه د نفرت له نجاسته ډک ده؟
اې
لا یزال خالقه،
دا نړۍ جنت کړه!
د جنتي ماحول؛ مست او مینه ناک مخلوق پکې خواره کړه،
تر څو انسانیت ته د مینې او عاطفې بیا روزنه وکړي.
اې
رحمان ربه!
زه د حورو او غلمانو د غوښتنې په مستۍ کې ډوب نه یم؛
یوازې غواړم چې انسانیت، د انسانیت له اصولو سره بېرته آشنا شي،
د حورو او غلمانو څخه مینه زده کړي، او بېرته یې په
انساني کرکجن ماحول کې وشیندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

اې
پوهېږئ؟!
اوس هم ځينې شته،
چې د نورو، احساساتو ته ارزښت ورکوي؛
د هغوی دردونه درک کوي،
او ورسره يې په درمان کې مرسته کوي؛
همدوی بلا معصوم دي.
دوی خپله "درد "ليدلی،
په اصل کې يې،
زړونه له غمونو ډک دي،
نو ځکه خو
"درد "ته "درد "وايي،
په احساساتو پايي،
او د نورو خوښي،
خپله خوښي ګڼي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

کله مې چې
د درد څپې پسې واخلي،
یوازې د مینې کنارو پسې لټېږم.
عجیبه دا ده،
ستړی وجود مې
ستا د غېږې دم غواړي،
خو د غېږې په نشتون کې دې،
د تیرې کوټې،
تیاره کونجونه،
دا دنده ترسره کوي...
ستا د غېږې په خیال
پکې د دنیا له دغدغو هاخوا
د څو شیبو لپاره
د آرام په غېږ بیده شم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

اې کاش!...
لاس مات شي،
پښه ماته
او سر مات شي...
خو چې
زړه نه ماتېدلای!

# ۵

اې نادان مخلوقه!
تاسو ته وایم:
له ځان څخه لوړو خلکو سره مینه مهٔ کوئ!
په حقیقت کې
له ځان څخه لوړو خلکو سره مینه کول، داسې وي،
لکه
د هوسۍ او زمري مینه....
اې نادان مخلوقه!
له ځان څخه هوسۍ مه جوړوئ!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مات انځور /11**

گڼې
خامخا به دې
یوه ورځ
زمری وداړي،
غوښې به دې وخوري،
او
هډوکي به دې
سپيانو ته واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

غواړم!!!

هغه سمندر شم،

چې په یوې څپې د نړۍ مخ بدل کړي،

غواړم!!!

هغه لمر شم،

چې په یو ځل ځلېدو، د نړۍ مخ روښانه کړي،

غواړم!!!

هغه باران شم،

چې په یو ځل ورېدو، نړۍ ښېرازه کړي،

غواړم!!!

هغه سپوږمۍ شم،

چې د شپې په تور ماهیت کې،

په یو ځل را ختو د نړۍ تورتم وخوري،

غواړم!!!

هغه چینار شم،

چې ستړیو زړونو ته، سیورى او آرام شي،

غواړم!!!

هغه رنګ شم،

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په یو ځل نړۍ رنګینه کړي،
غواړم!!!
هغه ماده شم،
چې په شتون یې، نړۍ ژوندۍ وي،
غواړم!!!
هغه ستوری شم،
چې لیکه یې، د ژوند غزېدلې لار ته رسي،
غواړم!!!
هغه امن شم،
چې مور ټول ورته سترګې په لار یو...

## ۷

باید پوه شم!
په دې پوه شم،
چې زموږ مینه خو به؛
د زمري او هوسۍ مینه نه وي؟
زموږ مینه خو به؛
د پشکې او موږک مینه نه وي؟
هو باید پوه شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې راته وایي:
درسره مینه لرم!
باید په‌دې معنی نه وي،
چې راڅخه استثمار کوي،
ځان لپاره مو مصرفوي،
ځان لپاره مو نڅوي،
او څنګه یې چې زړه وي؛
هماغسې مو داړي،
باید پوه شو!
مینه دا ده چې،
درته ونه وایي چې:
مینه درسره لرم!
بلکه ثابته یې کړي چې:
مینه درسره لري!
کله چې ناروغ شئ،
شپه درسره رڼا کړي،
دردونه دې حس کړي،
او درسره د یو ښه ملګري په شکل پاتې شي!!!...

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

د خلکو حق مهٔ خورهٔ،
د چا زړه مهٔ آزاروه،
له احساساتو سره يې لوبې مهٔ کوهٔ!
همېش ښه اوسهٔ او ښه کوهٔ،
همېش پهٔدې لټه کې اوسه،
چې څنګه باید غمجن زړونه،
خوشاله کړې؟!
همدا د انسانیت میعار ده،
همدا ده چې غواړې د رحمانیت صفت خپل کړې،
دا د انساني فطرت اساس ده...
دین په دین کې مه لټوهٔ!
مذهب میعار نهٔده،
نه لمونځونه او د یوګا حرکات!
میعار اخلاص ده،
په پوره اخلاص دې،
رب را وبوله...
شکر يې ادا کړه،
وې ستایه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځينې مرسته وغواړه!
هغه ده چې،
ستا په خبرو پوهېږي او ستا احساسات درک کولای شي،
خدای بد نه‌ده،
له خدايه مهٔ وېرېږهٔ!

# ۹

مورجانه مې،
تل راته همدا وايي:
اې نامرده !ولې؟
هغه زړه مې چې په يوې اوږده موده)نهو مياشتو (کې،
په ډېرې سختۍ سره جوړ کړ...
ولې؟
ولې دې د څو شېبو ښکار کړ؟
ولې دې په څو شېبو کې دانه-دانه کړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰

کله چې مئین شې!
لومړی بخیل شې،
بیا مغرور شې،
او بالاخره یواځې شې؛
همدا مینه ده نو!

## ۱۱

مهٔ ورکوئ،
هر چا ته د مینې سپېڅلی مقام مهٔ ورکوئ!
هر ناپاک ته دغه سپېڅلی مقام مهٔ ورکوئ!
لومړی یې وزن کړئ،
وې ازمایئ،
او په پوره غور سره یې،
د مینې په رنګ، رنګ کړئ!
ګنې
ډېر به پښېمانه شئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

اووووو!!!...
څومره خوند کوي،
چې له درده ډک زړه سره،
ښه په کړس وخانديږ!!!

# ۱۳

سمه ده،
منم يې!
منم يې چې،
مينه دې راسره نه لرله؛
منم يې چې ،
راڅخه دې کرکه درلوده؛
دا هم منم چې،
په بل چا مئينه وې؛
خو ولې؟
ولې دې داسې نازونه کول؛
چې فکر وکړم:
راسره مينه لرې؟!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

کله چې،
درنده چوپتیا خوره شي؛
الفاظ مې په ستوني کې خپ شي،
بیا نو یوازې،
یوازې ستا اروا وي،
چې د خیال په ورکو جزیرو کې مې
ملتیا کوي.

# ۱۵

ډېر مې زړه غواړي،
چې ځینو ته،
ځینې خبرې،
د ځنکدن په وخت کې وکړم؛
پلار،
"پلار جانه!
ژاړه مهٔ،
ستا غرور لکه دنګ نښتر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دنګ نښتر، دنګ وي...

د نرانو په سترګو کې اوښکې، ښې نه‌ښکاري"...

مور،

"مور جانې!

د نازولو اوښکو دې قربان شم،

مهٔ ژاړهٔ"

ملګري،

"ملګرو!

ژاړئ مهٔ!

ستاسو ملګری د تل لپاره د سکون غېږې ته درومي".

مینه،

"مینې!

یوازې موسکا او د انتظار پرانیستې سترګې"...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۶

هو،
اوس مې،
یواځینۍ هیله همدا ده،
چې
مړی مې هم
څوک ونه زوروي!...
اوس مې یواځینۍ هیله همدا ده،
چې
مرګ په حقیقت کې هم،
راته یو سکون جوړ شي...

# ۱۷

اې
پوهېږې؟!
مینه هغو څلورو دیوالونو ته ورته ده،
چې ترې د وتلو لار، شتون نه‌لري.
زه په همدې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورو دېوالونو کې بنديوان يم،
ولې انګېرم
چې راباندې د عمر قيد وتی؟!
ولې انګېرم،
چې هيڅکله به ترې خلاصون ونه‌شم مونډلی؟!
ولې؟!!!

# ۱۸

اې
هيله کوم!
مهٔ ځهٔ!
پاتې شه!
غم به مې درته،
د سترې ژوند کيسه وکړي!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

پوهېږئ؟!
اوس مې،
له هغو خاطراتو ډېره کرکه لرم،
چې په اړه يې سوچ کوم او وايم:
"زه څومره احمق وم؟"!

# ۲۰

که چا درته وويل:
"درسره مينه لرم"!
هيله کوم،
وربانديې باور مهٔ کوئ!
ډېر دروا‌غجن وايي:
"د باران له څاڅکو سره مينه لرو"!
خو کله چې باران وريږي؛
کارۍ پرانيزي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

"ښه يم"!
د نړۍ تر ټولو لوی درواغ،
او
له درواغجن تمثيله ډکه جمله!
"ښه يم"!
دا هغه توري دي چې،
تر شا يې،
د دردونو غرونه پټ کړي...

# ۲۲

پوهېږې؟!
ستا د مينې داستان به ډېر لنډ وليکم:
راغلې،
پاتې شوې،
بالاخره لاړې!...
نوره
کيسه ختمه!...

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۳

تل مې،
له خدايه سوال کوم:
خدايه!!!
سترګې راکړه چې،
ښکلا ووينې؛
خدايه!!!
زړه راکړه چې،
خيانت او ګناه وبښي؛
خدايه!!!
حافظه راکړه چې،
بدي هېره کړي،
خو ښه هېر نه کړي؛
خدايه!!!
بالاخره داسې يو روح راکړه چې،
خاوره يې د ايمان په اوبو ښکلې شوې وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۴

خلقه!

نه غواړم!

نه غواړم چې د لمر" ځلاګانې "یې،

په نازک مخ،

چکونه ولګوي...

خوښه مو،

چې

مینه یې بولئ

او که

بخیلي؟!

# ۲۵

وخت راته،

د اغیزو تاج په سر ایښی ده،

آه،

خو هیله‌مند یم،

او په دې پوهیږم چې،

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ به

همدا اغزي،

رنګارنګ ګلان ټوکوي!!!...

# ۲۶

وايي چې،

موسکا د زړه پرانيستلو لومړنی،

ور وي!...

سمه ده،

خو زما زړه يې پرانيسته او لاړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۷

هو،
په ژوند کې باید،
هر څوک داسې یو کس،
ولري چې،
نمجنې سترګې،
څېرې ګرېوان،
او د زړه ترل شوې دروازې یې،
په یوې نازولې موسکا پرانیزي.
هر څوک باید،
داسې یو کس ولري چې،
غېږه یې ورته،
د سکون او آرام؛ سرچینه وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۸

زړه مې
نن شپه بیا
د غم وزرې کړي،
او
د غم په لوړو غرونو الوتل غواړي!!!...

## ۲۹

نور مې روح،
د غم په دې سپېره زندان کې،
تنګ شوی!...
آزادي غواړي،
شور غواړي،
مستي غواړي،
نشه غواړي،
خمار غواړي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۰

اې
پوهېږې؟!
کله چې مې،
د غمونو سمندر ډوب کړي؛
لږ وخاندم
او
لږ چپ شم،
خو دا چې" درد "په ژبه نه راولم؛
زړه نامرده ډک شي،
له سترګو اوښکې لاړې شي،
او یوه شېبه مې له خولې ووځي...
مګر بالاخره
سترګې وتړم،
اوښکې پاکې کړم،
او د یو سوړ اسویلي په کولو،
په آرامه توګه،
ځان مخاطب کړم:
"ښایي، همدا عدالت وي"!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۱

د زړه زخمونه دي،
چاته مه ښکاره کوهٔ!
پوهېږې؟!
ځينې په ټپونو
مرهم نه،
مالګې دوړوي،
مالګې!!!

# ۳۲

خوښي...
دا کوم تيار شی نه‌ده!
بلکې
همدا تاسو ياست چې،
خپله خوښي،
پخپله تياروئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۳

داسې فکر وکړه،
چې د تل لپاره ژوند کوې!
او
داسې ژوند وکړه،
لکه همدا اوس چې مړ کېږې!
)ژباړه(

# ۳۴

ادب لکه عطر...
استعمالوو يې موږ،
خو خوند ترې،
نور هم اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۵

که له هرې خندا وروسته،
شکر نه ادا کوې!
نو
د یوې اوښکې په تویولو سره،
له خدایه ګیلې هم
مهٔ کوهٔ!

# ۳۶

اې خدایه!!!
زه دې هم ډېر عجیبه خلق کړی یم،
کله کله خو دې خلقت ته حیران شم،
ولې د معصومو څېرو، تر شا پټ دردونه لټوم؟!
ولې یې د درمان لپاره د زړه غوښې نذرانه کوم؟!
ولې هاا؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳۷

لږ غرور انسان سره مرسته کوي،
ترڅو؛
خپل ارزښت د بې ارزښتو پر وړاندې حفظ کړي!

## ۳۸

له ستونزو څخه تېښته،
دا هغه لوبه ده چې،
لوبغاړي به یې
هیڅکله ګټونکي نه‌شي.

## ۳۹

نه غواړم،
نه غواړم چې شوخ آترنګ دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نازک ورغوي ښکل کړي!

زړه دې

مينه يې بولې او که بخيلي!

# ۴۰

اې کاش!

کاش چې ستوری وای،

اوس به د سپوږمۍ ترڅنګ په، مينه اوسېدلای؛

په چيغو، چيغو به مې ژړل

د زړه حال به مې ورته وايه،

ګيلې به مې ورته کولې،

او د غم سندرې به مې ورته زمزمه کولې.

# ۴۱

خدايه!!!

زړه مې،

د سکون جزيره غواړي...

د سکون جزيره!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴۲

کله چې د ژوند لوړو پوړیو ته ورسېدې،
همدا ملګري دې،
ستا ارزښت درک کولای شي...
خو
کله چې
مات شوې،
پوهېږې چې ملګري دې څوک دي!

۴۳

د نړۍ تر ټولو ښکلی سینګار:
په شونډو موسکا،
په خوله حقیقت،
په لاسونو مرسته
او
په زړه مینه!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴۴

خوشاله اوسه!
هره شېبه دې،
د ژوند وروستۍ شېبه وګڼه!
څوک څه پوهېږي؟!
ښايي همدا دې د ژوند وروستۍ شېبه شي!

# ۴۵

داسې اوسه
چې آن
په ډېرو تروږمیو کې دې هم
د وجود سیوری درسره مل وي!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴۶

نېکمرغي څه ده؟!
نېکمرغي یانې:
د چا زړه
او
باور
مهٔ ماتوهٔ!

# ۴۷

غواړم د وزرونو اوبدل زده کړم،
ترڅو
ځان او نورو ته،
په خیالي نړۍ کې د آلوت لپاره،
خیالي وزرې جوړې کړم!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴۸

انسان باید
د" باد "له ذاته شي-
ترڅو؛
هر
ګل او اغزی
په یو انداز
او
یو وار ښکل کړي.

# ۴۹

هغوی
چې په ژوند کې
زړونه مړه ساتي؛
بیا
د مرګ په وخت
ژوند غواړي.
مرګ حق ده؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مرگ مرو!
خو راځئ چې
له مرگ مخکې ژوند، تجربه کړو؛
په ژوند کې،
زړونه ژوندي وساتو!

## ۵۰

روڼ سهار
د اسمان پر لمن
د افق څادر
د ونو د پاڼو نڅا
او
د غرنيو مرغانو له شوره ډکه موسقي-
واړه د ژوند خوږه نغمه غږوي!!!...

عبدالباسط جهاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵۱

ټولو یوازې پرېښودم
خو یوازې مې سیوری
راپسې وو؛
نژدې شوم،
ورو مې ورته وویل:
"ته خو به مې هم یوازې نه پرېږدې؟"!
د دروغو ژمنه یې وکړه،
شیبه لا تېره نه وه،
چې تورو
قهرجنو وریځو
خپلې وزرې پرانیستلې،
شاته مې وکتل؛
هیڅ نه وو.
هماغه وو چې پوه شوم:
"د ژوند له تیارو سره باید یوازې مبارزه وکړم"!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵۲

زما زړه،
له کیفه ډکه موسقي؛
او ستا
نڅاګرې سترګې...؟!
هو،
یوه ورځ دې خامخا
د خپلې مینې په محور نڅوم!!!

# ۵۳

هو
زه هاغه مئین یم چې،
د بخیلۍ وروستي سرحد ته رسېدلی،
هغه هینداره به
ټوټه-ټوټه کړم؛
چې ته ګورې او
هغه در ګوري!!!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵۴

هو
کله کله يو ځوک،
راته دومره ګران شي چې،
د خوږوالي وروستي حد ته ورسېږي…
موږ ترې ټول ژوند ځار کړو،
خو هغوی؟!
هغوی مو د سمندر څپو ته ټېل وهي
او
د ژغورنې لاس هم راڅخه ټول کړي…

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵۵

اې
پوهېږې؟!
نه غواړم چې
مخ دې، باد ښکل کړي؛
نه غواړم چې
سپوږمۍ دې مخ ته وګوري؛
نه غواړم چې
د باران څاڅکي دې، پرمخ لارې جوړې کړي.
خوښه دې
مینه یې بولې او که بخیلي!...

# ۵۶

سمه ده، عالي جنابه!
منم يې،
د ژوند ستره هستي به دې شم،
د سترګو تور،
د زړه ټکور،

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوربل ګل او د غاړې هار به دې شم،
اې پوهېږې؟!
هر څه به دې شم!
خو
هیله کوم،
ته مې هم،
د دردونو درمان
او د وجود، روح شه!

# ۵۷

نه کېږي؛
چې ته سیاره شې
او زه دې
سپوږمۍ شم؟!
په مدار به دې راڅرخم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵۸

اې
نه کېږي چې:
موږ دواړه،
لکه روح او تن شو؟!
روح او تن!!!
یانې:
د یو په نشتون کې، بل هیڅ!

# ۵۹

اې
غواړم چې
ستا د نفسونو اکسیجن شم!
چې په نه‌شتون مې،
ته هم
د ژوند باب وتړې!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶۰

عالمه!
نه غواړم چې
د لمر ځلاوې يې
پر مخ چکونه ولګوي.
خوښه مو:
مینه يې ګنئ او که بخیلي!

# ۶۱

اې صاحبې!
هيله کوم،
د ژوند ستوری مې شه!
زه به درته سپوږمۍ جوړه شم،
غواړم
غواړم ستا په مدار وڅرخم!!!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶۲

چې نه راځې،
بنه ده!
خو
د یادونو وزرې دې هم وتړه!

## ۶۳

درد مې
ژبه نه‌لري-
چې در چیغه کړي!
راشه په نبض مې لاس تېر کړه!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶۴

هو،
ځم جنت ته!
د جنت د باغونو
ګلان درته راوړم،
په ذلفو کې دې
د جنتي ګلانو قطارونه جوړوم،
هو،
غواړم،
چې ښایست دې،
د حورو له ښایست سره سیالي وکړي!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶۵

زه اوس
هغه نه یم
چې پخوا وم،
زه اوس
هغه شوخ نه یم،
چې تل به یې
په شونډو موسکا وه،
اوس د هاغه دنګ چنار،
ملا ماته ده،
اوس په تیارو کې ده،
خو له تیارو سره مینه لري،
ځکه په تیارو کې سکون لټوي،
اوس یې د زړه زور تللی،
یوازیتوب خوښوي،
اوس له نړۍ کرکه کوي،
اوس د ځان ملګری ده،

عبدالباسط جهاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶۶

اې
پوهېږې؟!
انګېرم چې مئين شوی یم
ټوله شپه د یو ستوري په ننداري تېروم؛
کله خو په نهيلي زړه
ځان مخاطب کړم:
اې کاش!
کاش چې سپوږمۍ وای،
اوس به مې د ستوري په مدار څرخېدم،
په چيغو-چيغو به مې ورته،
د زړه حال وايه،
ګیلې به مې ورته کولې
او
د غم سندرې به مې ورته غږولې!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶۷

موږ ځومره ښه یو،
خو نړۍ ځومره بده!
موږ مینه ورکوو،
مینه وېشو،
د مینې تخم شیندو،
په مینه باور لرو،
له مینې ډک یو،
هر چاته یوازې په یوې خبرې د بادشاهۍ مقام ورکوو،
خوښي یې خوښي گڼو،
غم سره یې ژاړو،
هیلې یې، هیلې بولو،
ځان پکې ورک کوو،
یادونو ته یې لکه وینه،
په رگونو کې ځای ورکوو،
خو هغه!
هغه مو زړه دانه-دانه کړي،
زړه یې کافر ده،
له تیږې کلک ده،

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو،

ژوند مو تیاره کړي،

او په مخ مو د اوښکو سیلابونه جاري کړي،

موږ ځومره ښه یو،

خو دنیا؛

دنیا څومره بده؟!!!

# ۶۸

اوښکې مې،

هره شپه

یوازې په همدې جرم

سنګساروي چې،

ولې مې په سترګو کې رغړېږي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶۹

چېرته چې دې،
شتون او نه‌شتون
ارزښت نه‌لري؛
نو هلته دې
شتون په څه مانا؟!

# ۷۰

چېرته دې چې ځای نه وي،
نو
کوښښ مهٔ کوهٔ چې،
د پښو فرش شې!
خلک به دې پایمال کړي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷۱

پوهېږې؟!
د خوشاله اوسېدو لپاره
سالم بدن
او
یوه سالم ضمیر ته
اړمند یو!...

# ۷۲

څه وکړم نو؟!
زړه ده،
لېونی ده،
سترګې نه‌لري-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷۳

ژوند وکړئ؛
له ژونده
خوند واخلئ!

## ۷۴

وړیا نصیحت:
هیڅکله د چا
د تېر ژوند په اړه پلټنه مهٔ کړئ!
ځکه
که د نړۍ د ښکلي ګلاب بېخ هم،
ولټوئ؛
خامخا به پکې
چینجي او خاورې وموندئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷۵

عجيبه نه‌ده؟
انجونې هغه هلکان لټوي چې،
ښه راتلونکی ولري. ...
خو
برعکس
هلکان هغه انجونې لټوي چې،
ښه تېر) ماضي (ولري. ...

# ۷۶

هيڅکله!!!
هيڅکله د نورو لپاره ژوند
مهٔ کوئ!
د نړۍ تر ټولو غمځپلي خلک هغه دي چې،
د نورو برداشتونه ورته
تر ټولو زيات ارزښتمند دي،
د نورو لپاره ژوند:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځانوژنې تدریجي پړاوونه!...

# ۷۷

اې
لایزال ربه،
پوهېږې!
نور دې دوزخ ته اړمند نه یو،
موږ یو بل ښه سېزلی شو. ...

# ۷۸

اې
قربان دې شم،
په دې کبرجنه نړۍ کې
غرور خپل فطرت وګرځوهٔ!
ګنې
دا انسانان به دې
پخپلو اشارو ونڅوي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷۹

زما د ژوند کولو
یواځینی شعار:
مینه وکړئ،
مینه ورکړئ،
مینه ووېشئ،
دا هر څه وړیا دي!...

# ۸۰

باور وکړئ؛
پیسې (مادیات) تاسو ته هیڅ نه شي
درکولای!
هغوی چې،
د ژوند میعار یې (مادیات) ټاکلي،
د نړۍ تر ټولو احمق خلک دي.
ځکه
مادیات ظاهر جوړولای شي،
خو معنویات هیڅکله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې موږ ته یو ښه موټر،
ښه لباس
او یو ښکلی کور راکولای شي،
خو زموږ تر ټولو ستر ارزښتونه،
چې هماغه معنوي ارزښتونه دي؛
لا هم نه شي رانیولی،
مثلا
آیا مینه، په پیسو پېرلای شو؟
آیا عاطفه، احساس او ادراک؛ په پیسو پېرلای شو؟
آیا حقیقي احترام په پیسو پېرلای شو؟
آیا په پیسو خندا پېرلای شو؟
آیا ښه اخلاق او انسانیت په پیسو پېرلای شو؟
آیا تقوا په پیسو پېلای شو؟
آیا ښایست په پیسو پېرلای شو؟
آیا رحم په پیسو پېرلای شو؟
دا د انسانیت میعارونه ول،
خو پیسو هیڅ یو،
ونه شو پېرلای!
مادیات به ښایي،
ښکلی موټر،

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مات انځور /61**

ښکلی لباس

او ښکلی کور راکړي،

خو

دغه درې واړه،

بدلېدونکي دي:

ښکلی موټر مو د جنازې په کټ بدلېږي،

ښکلی لباس مو په کفن بدلېږي،

او بالاخره

ښکلی کور مو په قبر بدلېږي؛

چې

دا ټول هم په پیسو نه پېرل کېږي،

دا هم وړیا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸۱

اې
مجبور یو!
مجبور یو چې د یوې غورځېدلې پاڼې،
د پورته کولو لپاره،
لومړی
پخپله هم
په ګونډو شو،
او بیا یې پورته کړو!...

# ۸۲

اې کاش!!!
کاش چې لېونی وای،
اوس به له دردونو لیرې،
د خیالي نړۍ په ښکلي طبیعت کې آلوتم
را آلوتم...!
ببر سر، څیرې ګریوان؛
اخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره یوه خوږه نړۍ!!!
اې کاش!!!
کاش چې د تورو غرونو شپونکی وای،
اوس به د نړۍ له دغدغو هاخوا،
د طبیعت د ښکلي ساز له څپو سره،
یوځای نځېدلای؛
شپېلۍ او رمه؛
اخ!
څومره ښکلې منظره!!!
اې د زړونو مالکه!
له انسانانو ستړی شوی یم،
نور نو د ژوند له دې دردوونکې صحنې
ستړی شوی یم!
ولې مې آواز نه اورې؟!
ولې د دې عاجز بنده حالت نه وینې؟!
ولې دې د دردونو په جزیره کې یوازې
پریښی یم؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸۳

قربان دې شم،
تحصیل مهمه نه‌ده!
دا مهمه نه‌ده چې،
څومره تحصیل لرې؟!
استعداد دې څومره ده؟!
او څومره شتمن یې؟!
ستا کړنې،
ستا برخورد
او ستا اخلاق
ستا د هرې لاسته‌راوړنې ښکارندویي کوي!!!...

# ۸۴

پوهېږئ؟!
اسمان ولې صاف او شین ده؟!
ځکه چې
هلته انسانان نشته!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸۵

اې خالقه!
که مرګ مې حق وي؛
را یې کړه!
نه غواړم-
نه غواړم چې هره شېبه مړ شم!...

# ۸۶

مورې-
مورجانې!
کله چې مړ شوم،
سترګې مې په ستنه
کلکې وګنډه!
نه غواړم چې
په ورانه هدیره کې هم،
د هغې بې‌ننګې او بې‌وفا
د راتلو لارې وڅارم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸۷

پرېږدئ چې مړ شم،
هسې هم،
ژوند کولو ته
انګېزه نه‌ده پاتې!

# ۸۸

اې زړګیه!
هیله کوم،
نور د چا لارې مهٔ څارهٔ!

# ۸۹

ورشئ!
مرګ خبر کړئ:
"یو ځوان
یوازې شوی،
هیڅوک نه‌لري؛
ته یې ملګری شهٔ"!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹۰

هو سمه ده،
ما د خپلو هیلو جنازه وکړهٔ،
او تا!!!
تا ښه ژوند وکړ...
همدومره وو،
کیسه ختمه ده!...

# ۹۱

اې نره!
ښځه حقیره کړه،
لاسونه یې وتړه،
په لېچو کې یې بنګړي مات کړه،
مړوندونه یې زخمي کړه،
وېښته یې وشکوه،
سترګې یې وتړه،
باڼه یې وباسه،
په نرۍ ملا یې ګوزارونه وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ستوني يې لاسونه کېږده،
په خوږو سترګو يې د اوښکو سېلاب
جاري کړه،
له وړې خولې يې د کړيکو آوازونه پورته کړه،
او بيا يې په خوله ورته پټۍ ولګوه چې
غږ ترې ونه وځي!
اې نره!
ته هر څه کولای شې،
ته قدرتمند يې،
متهور يې،
زورور يې،
ښځه ستا مال ده،
ښځه ستا ملکيت ده،
کمزوري يې؛
د هغې د ضعف نقطه وګڼه،
او ترې هر ډول استفاده وکړه!
خو پوه شه!
ښځه ډېر معضوم مخلوق ده،
يوازې يې په يوې خوږې خبرې پېرلای شې!!!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹۲

نه پوهېږم چې،
مینه څه ده؟!
خلک وایي:
غم ده،
ستم ده،
ژوا ده،
خو اې پوهېږې؟!
ماتته د زړه سکون ده،
ماته ژوند ده،
ماته روح ده،
ماته ساه ده،
اې،
مینه څومره خوږه ده؟!
هو مینه ګناه ده!
خو ولې؟
ولې له خلقت وروسته سم دلاسه،
آدم په حوا،
زمری په هوسۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زه به تا میئن شوم؟!
زړه عجیبه ده!
مال زما ده،
وینه زما پمپ کوي،
خو درزېږي تا لپاره!
ډاډه یم،
له ټولو مشکلاتو سره سره به،
ورځ راځي چې
لکه لمر به درنه ستوري طواف کوي،
لکه شاهین به له غرونو سره ډغرې وهې،
او هر مرغه به دې نوم
زمزمه کوي،
اې زما هیواده!
اې زما افغانستانه!
ته مې ژوند یې،
ته مې ځان یې،
ته مې مینه او
ته مې جانان یې!!!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹۳

پرېږدئ چې مړ شم،
که هيڅوک نه‌وي،
يو څوک شته!
ډاډه يم چې،
يو څوک شته چې،
راپسې به ځان وخوري!...

# ۹۴

راشئ!
د اوښکو د ماهيت،
تپوس له مانه وکړئ!
راشئ!
د اسمان به غورېدو،
د باران په ورېدو،
د سېلابونو د جوړېدو تپوس له مانه وکړئ!
راشئ!
د دردمند زړګي،
د درد تپوس له مانه وکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹۵

اې،
هيله کوم!
درد مې په موجونو مهٔ راولئ!
ګنې
د سونامې د يوې څپې په څېر به،
ټولنه نړۍ ورانه کړي.

# ۹۶

اې
سولې!
که مو له جنګ سره،
دومره مينه کولای:
اوس به مو هر يو،
"اډولف هيټلر "وای؛
د نړۍ فاتحين به وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹۷

بعضې وختونه مې زړه وايي،
راځه!
پخپلې خياليږنړۍ کې لوړې آلوتنې وکړهٔ!
ناخبر لهدې چې،
دردونو
او بدرنگو حالاتو مې
د خيال وزرې سېزلي دي-
چپ شم،
په نهيلي انداز
زړه مخاطب کړم:
"هيله کوم،
هغې نړۍ ته نور د تلو هڅه مهٔ کوهٔ چې،
ستا لپاره نهده جوړه شوې!
هيله کوم"!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹۸

اې!!!
هیڅا ته دومره ارزښت مه ورکوه چې،
ستا ارزښت پکې ورک شي؛
خاص یې!
نو
همداسې خاص پاتې شه!!!

# ۹۹

زما ربه!!!
ولې دې یوازې زه
له شپږم حس سره
خلق کړی یم؟
له هاغه حس سره چې نوم یې «درد» ده!
او نور یې نه لري....

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰۰

يوه ورځ به،
مړ شم...
او په ټولو به ګران شم!...

# ۱۰۱

اختره!
تر هغې دې نه لمانځم،
چې د کلي په کوڅو کې،
د امن چيغې نه‌وي، پورته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰۲

اې
غواړم
د سکون تر ټولو
ښکلې جزیرې ته
پرواز وکړم...
خو څنګه؟!

# ۱۰۳

که هر څومره مات شوې،
نهیلی کېږه مهٔ!
نهیلي د حل لار نه‌ده!
پورته شه او بیا یې شروع کړه؛
همدا ته ګټونکی یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰۴

په نړۍ کې هرکار کېدونکی ده،
خو همت غواړي،
حکمت او زحمت غواړي!
ته يې کولای شې!
يوائې په خدای توکل وکړهٔ،
او
له هرې تيارې وروسته يې
د يو نوي سهار په هيله پيل کړه!...
پهدې پوه شه چې:
تسليمي د ناکامۍ يوازينی عامل ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰۵

یوه اوښکه هیڅ وزن نه‌لري؛
خو
ولې يې په تويېدو،
زړه دومره خالي شي؟
نو
ژاړه!
ښه په چيغو ژاړه!!!
چې زړه دې ښه خالي شي!!!

# ۱۰۶

درد ورکول قيمت نه‌لري؛
ګنې
چا به چاته هيڅ درد نه ورکوه!
او يا
به مې اوس ډېر،
قرضداران وای.

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰۷

هو
ستا یادونه،
لکه د اروپا غرونه؛
په ښایستونو مالامال
خو
له دردونو ډک!...

# ۱۰۸

راشه!
د یو زوربېدلي زړه،
نړېدلې، نړۍ ورغوهٔ!
د کعبې تر رغولو غوره ده!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰۹

د زړه نړۍ مې
پر تا تکيه ده!
ترې مهٔ لرې کېږهٔ!

# ۱۱۰

راشه!
دردونه به سره ووېشو،
خو
درد به چاته نهورکوو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱۱

اې
د یوه زړه رغول،
له" حج اکبر "غوره ده!
راشه،
ښه راغلاست!
د زړه نړۍ مې ورانه ده؛
حج اکبر راباندې وګټه!

# ۱۱۲

مرګیه!
غواړم ژوند وکړم،
غواړم له ژوند څخه خوند واخلم!
مرګیه!
غواړم دردمند زړونه درمان کړم،
غواړم د پټو زخمونو درمان شم،
غواړم نړۍ د انسانیت او مینې په رنګ، رنګینه کړم،
اې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږې؟!
زه د هغو دردونو اورېدونکی یم،
چې خلک یې اورېدو ته وخت نه‌لري...
زه د هغو دردونو لیدونکی یم،
چې خلک یې د لیدو توان نه لري...
نو
مهٔ راځهٔ!
مرگه مهٔ راځهٔ!!!
لا مې په زړه هیلې دي،
لا مې د ځوانۍ ورځې دي،
نه‌غواړم چې د ژوند رنگینې پاڼې مې دومره ژر ورژېړې،
نه‌غواړم چې نازک بدن کې د خاورو، خوراک شي!...
نو
هیله کوم
غواړم ژوند وکړم!
غواړم له ژونده خوند واخلم!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱۳

اې
پوهېږې؟!
په احساساتو پوهاوی؛
زما د ضمير دنده ده!
تل هڅه کوم چې
په خبرو کې" احساس "واورم،
خو
زه چې چاته احساس غږوم؛
الفاظ اوري...
اې
هيله کوم،
"درد "وايم،
"درد "اورم!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱۴

"درد "څه ده؟!

خو

د زړه غوښې

خوړل دي کنه!

# ۱۱۵

ستا نه‌شتون کې، صیبه!

بلا تیارې دي،

دردونه دي،

څړیکې او

د اوښکو سېلابونه دي؛

ستا نه‌شتون کې، صیبه!

ماتې،

خزانونه دي...

راشه!

هیله کوم راشه!!

دردمند زړه ته مې دوا شه!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خزان وهلې ځوانۍ ته مې،
هیله د سبا شه!
خو راشه!
که نه راځې نو،
ما هم د مرګ په خوب ویده کړه، صیبه!

# ۱۱۶

## سوله

اې ته کله راځې؟
په انتظار مې دې سترګې په وتو دي،
هیله کوم راشه!
زه درته ډېر ډېر سترګې په لار یم؛
هره ورځ دې هرکلي لپاره
د اوړي په دې سوزونکې ګرمۍ کې
په لوڅو پښو
صحراوونو او غرونو ته ورځم...
راتلو ته دې لاس په تندي ولاړ یم
او ستا د راتلو لارې څارم
اې پوهېږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تورو شپو
په رڼو ورځو کې
په لمونځونو
په زيارتونو کې
اې پوهېږې
له مينې ډک مازيگر کې
تا له خدايه غواړم!
اې
هيله کوم
يو ځل راشه!
زه به درته دومره مينه درکړم
چې ځان به دې ورک کړې!
هر کله به دې لکه ناوې
د زړه په کور کې ساتم،
لکه ځوارلسمه سپوږمۍ به دې
سينگاروم
خماري سترگې به دې توروم
ښايسته نازکې شونډې به دې
سرې کوم
او

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شینکي خالونو کتارونه به دې په زنه جوړوم
توره، سره او زرغونه لوپټه به درته نذرانه کوم...
خیر ده
یو ځل راشه!
څومره نازونه کوې؟
نازونه دې سر په سترګو
خو
درته اړتیا لرم،
اې قسم ده،
هر درد ته به دې اوږه ورکوم
هر زخم ته به دې پټۍ جوړېږم
هر ساز ته به دې سندره شم
هرې ټپې ته به دې [یه قربان] شمه،
خو
راشه!
اې سولې کبرجنې
هیله کوم راشه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱۷

**اشرف غني بابا ته زما ډالۍ ۲۰۱۸**

په ځمکه پروت وه،
د بیا پورته کېدو توان یې نه وو،
وزرې یې خوځولې
خو حرکت یې نه وو،
هرې خواته لارې بندې وې
له تنګ قفسه سترې شوی وو،
هره ورځ یې د مرګ شیبې شمېرلې
د ښه کېدو هیلې یې مړې وې
چارپېره یې د چم
اوسېدونکو
د خوشالۍ او نڅا ساز غږاوه
په زخمي زړه یې ورته مالګې دوړولې
شته ملګرو یې هم
د مرګ او محکوم ژوند نندارہ کوله
هیڅ ژوندی موجود یې په درد دردمند نه شو
بلکې
یوازې یې مړې اوښکې ور شمارلې

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مات انځور /89**

دوی ملامت نه ول

ځکه دا یې دنده وه،

خو

په آزادۍ مئین

په دردونو کې را لوی شوی

د فکر او علم نابغه

د زخمونو ګنډونکی

د وېشتلې مرغۍ د سلګیو په اورېدو

په حساسو شېبو کې

په منډه منډه راغی

له دردونو

او سترو کړاونو سره سره یې

د وېشتلې مرغۍ په درمان لاس پورې کړ

بریالی شو

دردونو ته درمان

او نازکو شونډو ته موسکا جوړه شوه،

د خوشالیو سېلونه یې راکوز کړل

او له ډېر ځنډ وروسته یې

یو ځل بیا

د ژوند کولو نوې هیلې وټوکولې

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو لوړو ژورو پر وړاندې ودرېد
او پرې يې نه ښود
چې د ژوند دغه روښانه شمع
يوځل بيا مړه شي؛
اې پوهېږئ
چې دا څوک ده؟!
دا هغه
د نجات پرښته ده،
چې مړ شوي افغانستان ته يې بياژوندون ور وبانښه،
دا د زړونو رهبر
باتور غني بابا ده...!

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱۸

## د کافر آسمان ناول يوه کوچنۍ ټوټه

آسمان په غوريدو شو
سيلۍ هم د مرغانو
له آوازونو زمزمې جوړې کړې،
پورته په آسمان کې
وريځو
يو بل ته غېږې ورکړې
خو اې پوهېږې؟
د وريځو په يو ځای کېدو
آسمان د قهر وزرې وغځولې،
له غوسې نه پرې
اور بل شو
تالنده او برېښنا راغله
ناستو خلکو يو بل ته وکتل
له ګيلو ځخه په ډکو زړونو يې لاسونه پورته کړل:
خدايه ستا آسمان هم د مئينانو جدايي غواړي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلواکي
درې رنګه بيرغ
به بيا په غرونو رپېږي
بيا به
ټول چم رنګين وي
هرې خواته به ملي نښان ځرخېږي
اې پوهېږې؟
په رنجو به سترګې تورې
او نازکې شونډې به هم سرې کړي
له شين رنګ به
خالونه ځانته کېږدي...
په زنه به د درې رنګه
خالونو کتار
په سر شال به يار له جوړ کړم،
بيا به بيرغ په چنار خور کړم،
بيا به په چکو
زه او ته
په چم کې خور کړو:
«د خپلواکۍ سلمه کليزه مو مبارک شه!!»

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



AFGHAN
Cultural Defenders Group

دغه کاریال(اپلکېشن) تاسو ته د «افغان د کلتوري ساتونکو ډلې» لخوا وړاندې کېږي.

که غواړئ چې کتابونه مو انډروایډ کاریال ته واړوئ، له موږ سره په اړیکه شئ.

مننه

اجمل افغان اتکوال، د افغان د کلتوري ساتونکو ډلې متعهد...

ajmalafghanatakwal@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان کلتوري ساتونکو ډلې ژمن پانه

علما او تاریخ څېړونکي په دې باور دي چې افغانستان د نړۍ د لویو کلتوري او دیني ټولنو پیدا ځای ده.

د نړۍ لوی کلتورونه او لوی دینونه دلته پیدا او بیا یې په نړۍ کې تر خپرېدو وروسته، نړیوال هویت خپل کړی او ځینې خو لا منطقوي، سیمه اییز او محدود پاتې شوي او یا لمنځه تللي.

خو متأسفانه، دغه خاوره، په همدې تسلسل د کلتوري او دیني اندونو د تقابل یواځینی مرکز هم پېژندل کېږي. ځکه له پخوا وختونو راپدېخوا نړیوال هڅه کوي ترڅو خپل کلتور ته د تاریخي هویت ورکونې په پار د افغانستان په خلکو خپل هاغه منحرف او منسوخ شوي کلتورونه تحمیل کړي چې اصلي بنه او منشأ یې په همدې خاورې پورې اړوندېده.

نړیوال د خپلو ملي او سازماني منافعو په نظر کې نیولو سره دغه چاره ترسره کوي. نو ځکه خو هم پرې د ګوتنیونې وجه لمنځه ځي او د تنقید پروسه یې، په نړیوال ستېج کې خپل ارزښت له لاسه ورکوي. همدا خو د پېړیو راپدېخوا د نړیوالو اړیکو مهم بنسټ هم جوړوي.

نو اوس، تر ټولو مهمه ده چې موږ سره ویښ شو او د خپلو ملي او تاریخي-کلتوري ګټو په نظر کې نیولو سره له خپل هویت، تاریخ، کلتور، دین، ملي وحدت، ملي او تاریخي ارزښتونو او ځمکنۍ بشپړتیا څخه په ګډه دفاع وکړو او د خپلو لمنځه تللیو اصلي ارزښتونو په بیا راژوندي کولو کې خپله ونډه او ایماني وجیبه ترسره کړو.

پر همدې اساس موږ بااحساسه او د هېوادنۍ او اسلامي مینې ادعا کوونکي ځوانان ژمنه کوو چې پرته له مادي امتیازاتو به خپلې ټولګې ته چې د پورته

**عبدالباسط جهاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخو د شکل موندنې په پار د همدې ژمن پاڼې (تعهدپاڼې) لمخې رامنځته کېدونکې ده؛ وفادار او متعهد پاتې کېږو او د پرمختګ په موخه به يې خپلې مرستې نه دريغوو.

کوښښ به کوو چې د ملي وحدت روحيه پياوړې او له اسلامي-افغاني ارزښتونو او وياړونو به د ځان او مال په بيه ساتنه او دفاع کوو.

**مسعود افغان**

**افغان د کلتوري ساتونکو ډله**

**۱۳۹۵ هـ.ش**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**